محمد یوسف صابر ساپي
۲۰۲۱/۰۱/۱۴

# افغانستان د سرې جګړې قرباني

(د شیر محمد ساپي استونه)

ایا د افغان په پا که خاوره د وخت  زبر ځوا ک شوروي اتحاد د پوځي یرغل د رد نا که پیښه ،چې تو ل نړیوال سوسیالستي سیستم یې له بیخه لړزان او کاواک کړ،د شوروي دولت له خوا د فارس خلیج نفتي زیرمو او د تودو اوبو سمندري بندرونو په لور د وړاندې تګ ، مخکي له مخکي تدوین شوی ستراتیژیکي پلان ؤ او که د موجودې وضعي تر آغیز لاندې ،د شوروي دولتي مشرانو د عاجلي غوښتني او پریکړې محصول ؟... شوروي لښکرکښني  د نړیوال سوسیالیستي او پانګوالي سیستمونو ترمنځ ،د نړۍ  ویش په سر، د اوږدې ،سړې جګړې  د ډګر د ګڼ شمیر نښتو څخه یوه نښته وه او که د مرکزي آسیا تر لاندې کولو ورووسته،د سویل په لور د روسانو  نوبتي پراختیایي عملیات؟...

ایا د پیرۍ داسي ستره  غمناکه پیښه، چې په افغانستان کي یې خو کمزوري واکمنی یو د بل پسي بد لي کړې او د بیشماره افغانانود نابودي او بربادي باعث شوه ، دافغاني سیاسي مشرانو د چټکو غوښتنو کار ؤ او که د هغوی  د واک څخه بهر پروسه  ؟...په ساده ژبه،افغاني مشرانو د ځان ساتني له پاره شوروي پوځونه خپل هیواد ته راوغوښتل او که شوروي ځواکونه د خپلو موخو له پآره ،په خپله اراده او زور افغانستان ته ننوتل؟...

په عام فلسفي مفهوم،ایا دا ډول ستړې نړیوالي،ټولنیزې پیښې  د سیاسیونو په واک او اداره کي وي او که دهغوی له واکه بهر، د ټاکلو عیني شرایطو او قانونمندیو تابع وي؟...ایا چارواکي دا ډول ټولنیزې پیښې پلانیزه  کوي او که د عیني ټولنیز بهیر ناګزیره پدیدو په توګه، د روانو اوبو بهیر په څیر په خپله جریان مومي او نور ټول  له ځان سره وړاندې بیایي؟...

دا ډول پوښتنو ته د ځواب په لټه،د پیښي پس منظر ته ځو او په هغه وخت کي نړیواله وضعه ( د پیښي باندني زمیني په څیر) ګورو:

پر افغانستان باندې د شوروي تیري په وړاندې،د وخت نړیواله وضعه په یو لنډ عبارت کي پیژندل شویده: سړه جګړه . په دغه لنډ عبا رت کي د میلونونو انسانانو،په تیره بیا د بي شمیره افغانانو د برخلیک غمیزې پرتي دي.

هغه خونړۍ جګړه چې افغانستان ته د شوروي پوځونو د را ننوتلو سره پیل شوه او دادی څلورمه لسیزه کیږي چې لمبې یې لا پورته کیږي ، ریښي یې لا څو لسیزې مخکي ددې پیل څخه،په نړیواله وضعه او د هیواد په دننی حالت کې غزیدلي پرتي وې او د سون توکي یې مخکي له مخکي چمتو شوي وو. .د شوروي اتحاد په مشرې د نړیوال سوسیالستي سیستم او د امریکا متحده ایالاتو  په مشرۍ د لودیز پانګوالي سیستم تر منځ د نړۍ د ویش په سردښمني او سیا لي ،چې د سړې جګړې په نامه یاده شویده،د افغاني جګړې سربېره ډیرې  نورې خونړۍ جګړې هم زیږولي دي . دادې ښکاري،دا خونړۍ پیښي او د پیښو عاملین د عامو خلکو له حافظې څخه پناه کیږي او د تاریخ د تیارو تل ته کښته کیږي او ګنې د همدغو انساني غمیزو جنایتکاران د تاریخ له محاکمې  پرته،  نوو ناتاړونو ته متې بد وهي.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

د سړې جګړې علتونه د افغاني جګړې عام لاملونه هم دي.سړه جګړه د عصر د تاریخ خورا ستره برخه ده. دا د ټولې نړۍ د ځلور-ځلورنیمو لسیزو برخلیک دی.د بشر تاریخ د دا ډول اوږدې او نامخامخې جګړې ساری نه لري.د تاریخ په اوږدو کې د لومړي ځل له پاره نړۍ په دوو نړیوالو متخاصمو سیستمونو ویشل شویوه.د نړۍ په ګوټ ګوټ کې شخړې،نښتې او وژنې ،د همدې دښمنیو محصول په توګه رواني وې.افغانستان ته شوروي لښکرې هم د همدغو سیالیو او دښمنیو په لړ کې راننوتلې.د سړې جګړې د علتونو توضیح ، پر افغانستان باندې د شوروي تیري بهرني لامولونه هم روښانه کوي.د سړې جګړې په پیل،بهیر او پایلو کې د افغانستان د جګړې پیل،بهیر او پایلې لیدلی شو.د سوسیالستي او پانګوالي نه پخلاکیدونکو سیستمونو ترمنځ د دښمنیو د تشریحاتو پرته ،د شوروي لښکر کښیو ریښتیني او درسته توضیح امکان نه لري،مجرد او ځانګړې انځور یې نیمګړی او نادرست پاتې کیږي.د شوروي تیري د عیني لاملونو په لټه ،د سړې جګړې په پل ګام په ګام وړاندې ځو،ګورو، چې افغاني غمیزه هم د سړې جګړې د عاملینو تخلیق ده.

د سړې جګړې پیل د دویمې نړیوالې جګړې وروسته،په ۱۳۲۶هش (۱۹۴۷) م کال کې د امریکا متحده ایالاتو د ولسمشر ترومن د دکترینو(نظریې) د اعلان څخه کېل کیږي.د ترومن دکترینو زړی دا ؤ، چې متحده ایالات د ټولو هغو ملتونو سره ،چې غواړي د لړکیو او یا د باندینیو فشارونو په مقابل کی مبا رزه وکړي،هر ډول ملاتړاو مرستې ته چمتو دی. دا په حقیقت کې د شوروي ضد سیا ست غوره کولو اعلان ؤ .ګني په ایران،ترکیه اویونان کې د حالاتو انکشافات ددې باعث شول ،چې متحده ایالات شوروي ضد سیا ست غوره کړي.هلته د شوروي اتحاد په ملاتړ کمونیستي خوځښتونه ډیر فعال وو او مخ په وړاندې تلل،نو ځکه متحده ایالاتو غوښتل په هر ډول ،چې کیږي ددې حرکتونو مخه ونیسي. د ترومن دکترینو تر ټولو غوره انګیزه د ایران بحران ؤ.(۱)

د سړې جګړې پیل:د ایران د نفتو په سر ـ راځئ!چې وګورو،سړه جګړه زموږ په ګاونډې ایران کې د نفتو په سر پیل شوې،وروسته یې بیا ټوله نړۍ په غیږ کې رانیولې ده. د شلمې پیړۍ له لومړیو کلونو څخه تیلو د صنعتي هیوادونو په رګونو کې لاره کړې وه. پرته له نفتو یې نور ژوند او پرمختګ نه شو کولی. د د ویمې نړیوالې جګړې لادمخه د سترو صنعتي هیوادونو ورمیږونه د کسپین سمندرګي د نفتو زیرمو ته کاږه شوي وو. شوروي اتحا د،د امریکا متحده ایالتونو،انګلستان اوالمان خپل ژوند او ځواک پدې «تورو زرو » کې لیدل. شوروي اتحاد د ۱۳۱۵هش (۱۹۳۶) م کال را په دې خوا المان ته د تیلو استول بند کړل...انګلستان ته د المان او شوروي اتحاد په جنګ اچولو بنه بهانه په لاس ورغله. همدا کار د شوروي په ضد د المان د جګړې غوره لامل شو. . . . انګلستان هڅه کوله چې المان د شوروې په ضد ولوبوي، په دې موخه ،چې دواړه په وینو کې ډوب او کمزوري شي.(۲) د ۱۳۲۰هش(۱۹۴۱) م کال په جون کې المان د (بارباروسه) عملیاتو په نامه ،پر شوروي اتحاد باندې برید پیل کړ.د هتلر غوره موخه د ا وه ،چې د کسپین بحیرې د شا وخوا نفتي زیرمې تر خپل کنترول لاندې راولي .

له دې سره، د انګلستان او شوروي اتحاد اړیکې هم بد لې شوې. دواړو دولتونو د هتلر د ګواښ څخه د ایران نفتي زیرمو ساتلو په موخه پریکړه وکړه ، هغه هیواد اشغال کړي .سره ددې ،چې ایران هم ،د افغانستان په څیر په نړیواله جګړه کې خپل ناپییلتوب اعلان کړې ؤ،اما رضا شاه پهلوي او د هیواد خلک یې المان ته خوشبینه وو.همدغه د انګلیسانو د همیشني ویرې دلیل ؤ،کیدای شو د ابا دان د تیلو د استخراج کارخانه ،چې د انګلیس ـ ایران نفتي کمپنۍ AIOC (ننۍ BP ) په لاس کې وه،د المانیانو لاس ته ورشي.نوموړې کارخانې په ۱۳۲۹هش(۱۹۴۰م) کال کې اته میلیونه ټنه نفت راویستلي ؤ.د متفقینو له نظره،دغه نفتي زیرمو د جګړې د بهیر له پاره خورا اغیزناک او غوڅ


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

رول درلود. د شوروي اتحاد له پاره هم ایران غوره ستراتیژیکي ارزښت لره .
د جګړې په پیل کې د المان ځواکونه د شوروي اتحاد په خاوره کې په زغرده مخ په وړاندې تلل . شوروي اتحاد ته د امریکایي اکمالات ،د شمالي سمند ر له لارې،د یخک او الماني ځواکونو د موجودیت له کبله ګران کار ؤ ،ددې له پاره د ایران د ترانزیت ریل لاره ډیره مساعده او د فارس خلیج اکمالاتي لار غوره وه .
بریتانیا او شوروي اتحاد د ایران دولت او رضا شاه تر فشار لاندې راوست. دلته په تهران کې خلک د المان په پلوي لاریون ته راووتل . لدې سره،د بریتانیا او شوروي سفیرانو د رضا شاه څخه وغوښتل،چې ټول الماني اتباع له ایران څخه وباسي.رضا شاه دا غوښتنه رد کړه.دا وخت د ایران په صنعتي پروژو کې نږدې ۵۰۰ المانیان په کا ر بوخت وو، په داسې حال کې چې د ایران د سویل په نفتي موسسو کې نږدې ۳۰۰۰ انګلیسانو کار کاوه.
د ایران ستراتیژیکي ارزښت او متقفینو سره د رضا شاه د نه همکاري له کبله، انګلیس او شوروي د ۱۹۴۱م کال د اګست په پنځه ویشتمه د جګړې د اعلان پرته،د ایران په پوځي اشغال لاس پورې کړ . ایراني جزوتا مونه جګړه ییز چمتووالي سره سره، په خپلو کاغوشونو کې بیده وو، چې ګهیځ وختي د انګلیس ځواکونو پرې برید و کړ.دغو عملیاتو چې د همغږۍ په نامه سرته ورسیدل،دوه غوره موخې درلودې:
- د خپل کنترول لاندې د ایران د نفتي ډګرونو ساتنه،
- شوروي اتحاد ته د امریکایي اکمالاتو د فارس لارې تامین.
په دې توګه ،ایران د سویل له خوا د بریتانوی پوځ او د شمال له خوا د شوروی پوځ په واسطه ډیر ژر اشغال شو.د جګړې تلفات څو ایرانی بیړۍ او شپږ سوه ایرانیان وو.په دې ډول،له څنګه چې متل دی ، ګیدړۍ ته یې خپل پوستکی غم دی،ایران د خپلو تیلو په سر،د دوو پوځی ځواکونو له خوا اشغال شو.
دلته په څرګنده توګه وینو،چې ایران هم د افغانستان د اشغال څخه ۳۸کاله دمخه ،د زبر ځواکونو ترمنځ د همدغه ډول سیالیو او دښمنیو په ترڅ کې اشغال شوی دی.نور ورته والی هم شته دی.
د نړیوالې جګړې په پای کې،د پوتسدام کنفرانس د پریکړو سره سم،باند نې پوځې ځواکونه باید د ایران له خاورې څخه وتلی وای،اما په (۱۹۴۵-۱۹۴۶) م کلونو کې د ایران د کوردانو او اذریانو جلاغوښتونکو تحریک،د شوروي په مخامخ ملاترغښتلی شو ،د (۱۹۴۵) م کال په دسمبر کې یې د جعفر پیشوري په مشرۍ د اذربایجان خود مختاره (اتونومی)حکومت اعلان کړ.د پیشوري (دموکراتیک ګوند) د دولتي ادارو په جوړولو لاس پورې کړ. د( ۱۹۴۶ ) م کال په جنوري کې د کوردانو(مهاباد جمهوریت) تاسیس شو.په دې کې د ستالین موخه داوه ،چې د ایران د شمالي سیمو نفت د شوروي دایمي کنترول لاندې وسا تي.د ایران د پوځي استخباراتو د اسنا دو پر بنسټ،شوروي اتحاد پلان درلود د تودې ګوند په پیاوړي کولو سره،په تهران کې هم شوروي پلوه واکمنی رامنځته کړي او په دې توګه د شوروي ځواکونو له پاره په ایران کې د دایمي پاتې کید و زمینه برابره کړي.
همدغه مسا له،د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد تر منځ د ملګرو ملتونو د امنیت په شورا کې، چې نوې جوړه شوې وه،د لومړی ځل له پاره د شخړې موضوع وګرځیدله .د امریکا ولسمشر ترومن شورويْ دولت په جګړې ،ان د اتومې وسلو پکارولو سره وګواښوه ،چې باید خپل پوځونه د ایران له خاورې څخه وباسي.شوروي ددې ګواښ وروسته خپل هوډ بد ل کړ.
همدغه مسا له د ترومن د دکترینو د اعلان انګیزه وګرځیدله.د ترومن دکترینو په بنسټ،د امریکا متحده ایالاتو کمونستي


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

ضد او شوروي ضد لاره غوره کړه.سره ددې چې اوس د امریکا دفاع وزارت د پنځوسمو کلونو له پټو اسنادو څخه څرګندیږي ،چې متحده ایالاتو پخوا لدې هم غوښتل ټوله اروپا د خپل نفوذ لاندې راولي او د وسلو د سیالی له لارې شوروي اتحا د بې ثباته کړي.

دا چې ولې متحده ایالاتو شوروي اتحاد د ایران د تیلو په سر، په اتومي وسلو وګواښوه،شخړه بیا هم د« ګیدړې په پوستکي » وه : د ترومن له پاره دا خورا جدي مسٔله وه ،چې د ایران د تیلو پر زیرمو باندې د شوروي ولکه په نړۍ کې د واک بیلانس بدلوي او د لودیزو هیوادونو اقتصاد ته ډیرزیان رسوي .پدې توګه،د ترومن دکترین د شوروي نفوذ د مخنیوي له پاره،د ایران د تیلو په سر د سړې جګړې پیل ګڼل کیږي.

لدې وروسته،سړه جګړه ورو ورو ګرمیدله او په (۱۹۴۸- ۱۹۴۹م ) کلونو کې د برلین په کلابندی سره د لومړی ځل له پاره د تودې جګړې پولو ته نژدې شوه.

دوه قطبي نړۍ : د ترومن دکترینو سره سم ،متحده ایلاتو په اروپایي هیوادونو کې د کمونیستي غورځنګونو د مخنیوي او تر خپل کنترول لاندې د اروپایي اقتصاد راوستنې له پاره ،د کنډواله شوې اروپا د بیا جوړونې مارشا ل پلان طرحه کړ.مارشال پلان د شوروي اتحاد په شمول،د ټولو اروپایي دولتونو څخه غوښتل ،چې د اروپا په بیا رغونه کې ونډه واخلي.اما پدې هکله ،په پاریس کې خبرو-اترو کومه نتیجه ورنه کړه ځکه ،چې امریکا مخکې له مخکې ددې له پاره سیا سي او اقتصادي شرطونه وضع کړي وو، چې شوروي اتحاد ته په خپل پلانیزه اقتصاد سره د منلو وړ نه ؤ. د وران شوو اروپایي هیوادونو سره د متحده ایالاتو د مرستې سیا سي شرط دا ؤ، چې کمونستانو ته به په حکومتونو کې ونډه نه ورکوي.

د شوروی واک لاندې د ختیزې اروپا دولتونو د امریکا مرستې رد کړې،پدې توګه،په اقتصادي لحاظ د شوروي اتحاد پورې نژدې تړلي پاتې شول.

د (۱۹۴۸م ) کال د جون په ۲۰ نیټه لودیزومتحدینو ،د شوروي نظر پرته ، په لودیز برلین او د دوي واک لاندې آلمان کې پولي ریفورم ،چې امریکایي ډالر په کې رسمي پولي واحد ؤ،سرته ورسوه. شوروي اتحاد دا کار د پوتسدام تړون ( چې باید د المان سیا سي او اقتصادي یووالی وساتل شي ) د لغوه کیدو په معنی وګڼانه او د (۱۹۴۸م ) کال د جون په ۲۴ نیټه یې د برلین په محاصره چې د برلین د لودیزې برخې بشپړه اقتصادي او تجارتي کلابندي وه،لاس پورې کړ.دا د برلین لودیزې برخې ته د خوراکي توکو او سون توکو بشپړ بندیز ؤ.لدې لارې شوروي غوښتل ،چې لودیز برلین هم تر خپل کنترول لاندې راولي ،که نه لږ تر لږه،لودیز ځواکونه سیا سي شاتګ ته اړ کړي.لودیزو دولتونو دغه کلابندي د هوایي پل په جوړولو سره خنثی کړه. دا د سړې جګړې لومړنی حاد حا لت ؤ. لدې سره لود یز دولتونه پدې سوچ کې شول ،چې شوروي اتحاد ربښتیا هم پراختیایي موخې لري .

په ( ۱۹۴۹م ) کال دریو لودیزو ځواکونو د المان اتحادي جمهوریت په جوړیدو موافقه وکړه او د ناټو پوځي تړون یې جوړ کړ. شوروې اتحا د بیا د المان دموکراتیک جمهوریت جوړ کړ.لدی سره ،د المان او اروپا ویش ترسره شو او دوه قطبي نړۍ ټینګه شوه.(۳)

ددې سره سره ،چې د المان د موکراتیک جمهوریت او اتحادي المان په د وو متضادو سیاسي ،اقتصادي او پوځي سیستمونو کې ځای درلود ،اما د سړې جګړې په څلورو لسیزو کې یې خپلمنځي ټینګ سوداګریزې اړیکي درلودلې . دغو دننیو سوداګریزو اړیکو د متضادو ایډیالوژیو سره سره ،په ویشلي المان کې د زیا ت شمیر تماسونو ،شرکتونو او


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

داسی نورو اړیکو امکانات رامنځته کول.نوموړو دننیو سوداګریزو اړیکو الماني دولتونو ترمنځ پر سیاسي فضا باندی هم مثبت اغیز ښنده. برخلاف ، په ویشلي کوریا کې تر ننه پورې دا ډول اړیکي وجود نه لري .نن بیا زموږ د سترګو په وړاندې ،پاکستان د امریکا په لګښت ،د لرو او برو پښتنو ترمنځ د اړیکو پریکولو له پاره ،د تروریزم د مخنیوي په نامه،د ډیورنډ په کرښه آغزن سیم وغوځوه.د افغان ګوډاګي حکومت او لرې پښتونخوا زیاتره بګیل شوي،پلورل شوي سیاسیتوال ورته ټیپي ټیپي ګوري او آن ورسره همکاري کوي او ددې درک څخه عاجز دي،چې د لرو اوبرو افغانانو ترمنځ یواځې د سوداګریزو اړیکو موجودیت ،تګ او راتګ پر نورو ټولو اړیکو مثبت آغیز ښندي،د المان په څیر بیا یووالي ته یې شرایط برابرولی شي.

د ترهګرو په نامه،دا د (ژان وال ژان) په څیر فقیرو پښتنو بیلول او ځپل د هر ډول انصاف څخه لیرې چاره ده،لکه د سړې جګړې په لړ کې د خوارافغانستان اشغال،چې هیڅ ډول انساني توجیه نه لري،ځکه نو پر شوروي باندې د نړۍ د ولسونو قهر او الهي غضب هم نازل شو. په پاکستان او امریکا به هم همداسې قهر او غضب راپریوځي. که نه،زه خو همداسې غواړم...

بیرته د سړې جګړې وخت ته راګرځو. د لود یز سره په دښمنۍ کې ،شوروي اتحاد هم په (۱۹۴۹م) کال اتومي بم وآزمویه. په دې وخت په چین کې هم، د ما وو تسه دون په مشرۍ کمونیستانو واک تر لاسه کړ.په همدې انګیزې د امریکا متحده ایالاتو د کمونیسم د مخنیوي سیا ست نورهم جدي ونیو. متحده ایالاتو د چین نوی حکومت په رسمیت و نه پیژانده او په ملګرو ملتونو کې یې د چین ولسي جمهوریت غړیتوب تر ډیره نه مانه او د هغه په مقابل قطب کې یې د جاپان پرمختګ څخه ملاتړ کاوه.

د سړې جګړې په لړ کې د ختیز او لودیز دښمنۍ ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو وې.په افغانستان کې د نیابتي جګړې د پیل دمخه ،د زبرځواکونو ترمنځ ډیرې نورې خونړۍ نیابتي جګړې شوې وې. زموږ ولس او سیاستوال د فیل په غوږو کې بیده وو.

نیابتي جګړې - هغو جګړو ته ویل کیږي،چې زبرځواکونه،د اتومي او ټول وژنې نورو وسلو په موجودیت کې یو دبل سره له مخامخ ټکر څخه ځانونه ساتي،اما په دریمو هیوادونو کې د دوی په نیابت ، د دوی په وسایلواو د دوی موخو له پاره سیمه ییزې وسله والې ډلې جګړې پرمخ بیایي.

د کوریا هیره شوې جګړه - د زبر ځواکونو لومړنی نیابتي جګړه - په ۱۹۵۰ م کال د سړې جګړې لمن په شمال ختیزه اسیا کې کوریا ته ورسیده.د نړیوالي جګړې دواړو زبر ځواکونو د جاپان له تسلیمي وروسته کوریا په دوو برخو وویشله. ډیر وخت تیر نه شو،چې د شمالي کوریا او سویلي کوریا ترمنځ ،یو د بل خاورې نیولو په سر جګړه ونښتله.دا جګړه نه یواځې د دواړو کوریاوو ترمنځ وه،بلکې متحده ایالاتو په کې مخامخ او چین او شوروي په کې غیرمستقیم ګډون درلود.د دریو کلونو خونړیو جګړو وروسته د ډیرو نښتو ، بایلود او د کوم ارزښتناک برې پرته،دواړو خواوو اوربند ته ،چې تر ننه پورې دوام لري،غاړه کښیښوده.

د جګړې په اوږد و کې کیمیاوي او بیولوژیکي وسلې استعمال شوې،ډیرې ډله ییزې وژنې او نسل کشي سرته ورسیدې.دغې جګړې،اټکلي،څلور- پنځه میلونه انساني تلفات لرل.

د ۱۹۵۰ -۱۹۵۳م کلونو د کوریا هیره شوې جګړه، په حقه د ناپیژندلې جګړې د نوم وړ ده.لدې سره هیڅ انکار نشي کیدلی چې امریکا شمالي کوریا په بې رحمانه بمبارۍ سره ورانه کړه،اور اچونکي بمونه( د بې شمیره ناپالم بمونو په

شمول) يې استعمال کړل ، د اتومي وسلو ګواښ هم وجود درلود . . . اما دغو حقيقتونو څخه عام خلک خو څه کوی ،ان تاريخ پوهان هم ندي خبر( ۴) د سړې جګړې څخه راپاتې د کوريا تپ ،لکه د پښتنو په سينه د ډيورنډ ناسور، لا تر اوسه تازه پروت دی.

د کوريا جګړه د زبرځواکونود نيابتي جګړو د تاريخ يوه دردونکي پاڼه ده.اودا خونړۍ جګړه د سړې جګړې يواځنۍ توده جګړه نه وه .

په ختيز آلمان کې د شوروي پوځي مداخله ـ د ۱۹۵۳م کال د مارچ په پنځمه ستالين مړ شو. لدې سره په شوروي کې د ستاليني شيوې دمنځه تللو امکانات پيدا شول.د شوروي نوې مشر خروسچوف د اتومي وضعيت او دننيو ستونزو په نظر کې نيولو سره ،په سوله کې د ګډ ژوند او د ستونزو د سوله ييز حل لاره غوره کړه. دغه لنډه د وره ،د ۱۹۵۳م کال د جون په اولسمه ، د المان په دموکراتيک جمهوريت کې د خلکو پا څون سره پاې ته ورسيده. په ختيز المان کې د زياتو پوځي لګښتونو په نتيجه کې اقتصادي بحران منځته راغی او ورسره د خلکو ژوند ورځ په ورځ خرابيده. کارګران د خپل ژوند د شرايطو د خرابي په مخالفت کې پاڅيدل. دغه مخالفتونه ژر په دولتي ضد او شوروي ضد سياسي اعتصابونو بدل شول.

لدې سره شوروي اتحاد پوځي مداخله وکړه او اعتصابونه يې وځپل.لود يزو هيوادونو د شوروي پوځي مداخله يواځې وغندله.شوروي اتحاد په دې وخت کې د وسلو په سياليو کې دهايدروجني بمونو او ليرې واټن الوتکو په لرلو،د متحده ايالتونو سره يو برابر ؤ.لدې سره د ګواښ له نظره، يو توازن منځته راغلی ؤ.همدغه وضعيت د سترو ځواکونواړيکې تا کلې او د وسلوسيالی يې نوره هم زياتوله.وروسته لدې ، امريکا په لوديزه اروپا کې د اتحادي المان په شمول،هستوي او لنډ واټن توغندی نصبي کړې.

په ۱۹۵۵م کال کې شوروي اتحاد او دهغه متحدينو د وارسا پوځي تړون جوړ کړ.

په هنګري کې د شوروي پوځي مداخله ـ په ۱۹۵۶م کال ، په هنګري کې يو شمير روښآنفکرانو د شوروي پوځي موجوديت په ضد پاڅيدل ،سړکونو ته راووتل، د راديو له لارې يې د هيواد ټول خلک لاريون ته راوبلل،ژر يې د شوروي اتحا د څخه د ازادۍ او د خپلواکو ټولټاکنو اعلان وکړ، پرته له ځنډه يې خپل کس (امرنا ګي) د لومړي وزير په توګه وټاکه. نوموړي سمدلاسه د وارسا پکت څخه د هنګري د وتلو پريکړه وکړه.

لدې سره شوروي پوځي ټولګيو پر هنګري باندې بريد وکړ،پاڅون يې وټکوه او پدې اخ و ډ ب کې زيات شميرانسانان ووژل شول.د لوديز له خوا هغه مرسته ،چې د ازادې راديو له خوا ويل کيدله،ونه رسيد له.پدې وخت کې لوديز ځواکونه د سويس کانال په مسأله کې بوخت وو.دا هغه وخت ؤ ،چې د مصر نوي ولسمشر جمال عبدا لنا صر د سويس کانال ملي اعلان کړی ؤ او لدې سره فرانسي،بريتانيا اواسراييلو يوځای پر مصر باندې پوځوځونه ورمارش کړي وو.

د کيوبا بحران ـ نړۍ د اتومي ټکر په درشل کې ـ په کيوبا کې د ۱۹۵۹م کال په لومړيو کې د فيدل کاسترو په مشرۍ انقلابي واکمنی رامنځته شوه او سوسيا لستي لاره يې غوره کړه. متحده ايالاتو، چې مرکزي امريکا يې آن د اتلسمې پيړی راهيسې د خپل انګړ په توګه ګڼل،پر کيوبا باندې اقتصادي بنديزونه ولګول او د نوې واکمنی راپرځولو له پاره يې يو لړ پټ عمليات سرته ورسول. امريکايي تخريبي فعاليتونو کوم خاص بری نه درلود اما لدې سره ،په ۱۹۶۲م کال کې د سترو ځواکونو تقابل هلته يو بحراني حالت غوره کړاو ورسره تولـه نړۍ د يوې نوې جهاني جګړې په درشل کې ودريده.وروسته د هغې ،چې متحده ايالاتو په ترکيه کې د (جوپټر) او (تور ) منځني واټن توغندی ځای پر ځای

کړې،شوروي اتحاد په کیوبا کې اتومي توغندی نصبې کړې.لدې سره،د متحده ایالاتو سمندري ځواکونو د ولسمشرجون کینډي په امر شوروي بیړی ،چې کیوبا ته رواني وې کلابندې کړې.وضعه تر دی حده وخیمه شوه ،چې شوروي بیړیو بیرته مخونه راوګرځول، اتومي ټکر ته ډیر څه نه ؤ پاتې .پدې وخت کې، د امریکا د ولسمشر ورور روبرت کینډي د پټ دیپلوماتیک تما س په ترڅ کې د شوروي مشر خروسچف څخه وغوښتل،په کیوبا کې د اتومي توغندیو نصب څخه صرفنظر وکړي او متحده ایالات به د ترکیې څخه خپل توغندي لیرې کړي.پدې موافقې سره د اتومي ټکر مخه ونیول شوه.

د برژنف دوکترین: د شوروي اتحاد ولسمشر لیونید برژنف په ۱۹۶۸م کال د پولینډ د متحد کا رګري ګوند په کنګره کې په خپلي نظریې داسې ټینګار وکړ:«هر سوسیا لستي دولت د خپل هیواد ملي ځانګړتیاوو په نظر کې نیولو سره سم،ځانته د سوسیالیزم د جوړښت او ودې ځانګړی شکل غوره کوي،اما د سوسیا لستي جوړښت عامي قانونمندی وجود لري، چې د هغو څخه سرغړونه،د سوسیالیزم څخه د سرغړوني موجب کیدی شي.کله چې د سوسیالیزم دنننې او باندنې دښمنان وغواړي د یو سوسیا لستی هیواد د پرمختګ سوسیالستي لوری ، د سرمایه داري نظا م د بیا راژوندي کولو په غرض وګرځوي،کله چې د ټاکلی هیواد سوسیالیزم ته ګواښ پیداکیږي،ټول سوسیالستي وروولی ته ګواښ پیښوي.پدې صورت کې،دا یواځې ددې هیواد ستونزه نه،بلکې د ټولو سوسیا لستي هیوادونو ستونزه ده.» (۵)

د برژنف همدغه نظر، چې د شوروي اتحاد د اویایمو او اتیایمو میلادي کلونو د بهرني سیاست بنسټ جوړوه،د لودیزوسیاست پوهانوله خوا د برژنف دوکتورینو په نامه یا د شوی دی. افغانستان ته د شوروي پوځي ټولګیو استونه هم د همدغو دکترینو په بنسټ شوي وه.هغه وخت د افغانستان دولت هم د سوسیالستي سمت غوره کونکو دولتونو په کتار کې ګڼل کیده.

د ۱۹۶۳م کال راهیسې د دواړو قطبونو تر منځ،نسبتاً د سولې فضا رامنځته شوي وه.شوروي اتحاد « په سوله کې د ګډ ژوند» پرنسیب تعقیبوه. لودیزو دولتونو بیا د ټولو هیوادونو ترمنځ نژدې اړیکې غوښتل او داسې یې ګڼله، چې د لودیزو ټولنو پرمختیا نور او نور هیوادونه ځانته راجلبوي. اما د سولې رامنځته شوی فضا ډیر دوام نه درلود.

په چکوسلواکیا کې د وارسا پوځي مداخله ـ په ۱۹۶۸م کال کې د چکوسلواکیا کمونیست ګوند یو شمیر ریفورم غوښتونکو د الکساندر دیوبچک په مشری،د ټولنې دموکراتیزه کولو له پاره،یو لړ ریفورمونه (د سا نسور له منځه وړل ،د بیان ازادي اواقتصادي اصلاحات) طرحه کړل. خودغه«چکوسلواکي سپرلی» ډیر لنډ ؤ .نوموړي اصلاحات د شوروي مشرانو په نظر ،انقلابي ضد ریفورمونه وو. لدې سره یې د وارسا نیم میلیون پوځیان په پراګ ورمارش کړل او دغه ریفورمي اقدامات یې وټکول.په دغو سترو پوځي عملیاتو کی ۹۸ تنه چکوسلواکیان او ۵۰ تنه د وارسا پکت پوځیان تلف شول.

د نیم میلیون پوځیانو یرغل د خونړي سیلاب په څیر وي،هر څه لاندې کوي.د یو روسي افسر له خولې : د پراګ په عملیاتو کې یوې چکي میرمنې ددې له پاره ،چې د پوځونو د وړاندې تګ مخه ونیسي، خپل طفل یې د سړک په سر د ټانک مخې ته واچوه. ددې سره ټانکست سرتیري برک وواهه،ودرید. د ټانک قوماندان ټانکست ته امر وکړ،چې حرکت ته ادامه ورکړي،ټانکست ټکنی کیږي،چې څنګه د ماشوم په سر وړاندې لاړ شي،قوماندان یې په سر تفنګچه ایږدي او امر کوي،چې وړاندې لاړ شي. ټانګ خپل وړاندې تګ ته ادامه ورکوي...د ددې د اجرا وروسته کله،چې ځوان ټانکست بهر راوځي ،ټول ګوري،چې د سر ویښتان یې ټول تک سپین شوي دي...داسې ساده واقعیتونه د پیښو وحشت ډیر ښه


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

بیانوي. شوروي پوځیانو د ختیزې اروپا د خلکو مقاومتونه په ظالمانه زور ماتولی وشول،اما په افغانستان کې یې هم په همدغه منطق ،د مقاومتونو د ماتولو له پاره د هر ځومره زور څخه ،چې یې کار اخیست،مقاومت نور هم پیاوړی کیده. یو روسي افسر اقرار کوي: دا چک نه دی!.. لودیزو دولتونو لکه د نورو پلاوو په څیر،په چکوسلواکیا کې د وارسا مداخله وغندله،اماعملي کوم غبرګون یې ونښود. سترو ځواکونو،د اتومي ګواښ په موجودیت کې،پدې ډول یو دبل سره دمخامخ ټکر څخه ځانونه ساتل،اما په دریمو هیوادونوکې د دوی دښمني شد ت ته رسیدلې .

د ویتنام خونړی جګړه - د ۱۹۵۵ څخه تر ۱۹۷۵م کلونو پورې په ویتنا م کې جګړه روانه وه . دا جګړې د ویتنام جګړې یا د هند وچین دویمي جګړې په نامه یادیږي.نوموړې جګړې د سترو ځواکونو د غیر مستقیمي ونډې له کبله د سړې جګړې په بهیر کې، د نیابتي جګړو په شمیر کې راځي. دا جګړه په ۱۹۵۵م کال د ویتنا م د ویش څخه وروسته په سویلي ویتنا م کې د دننۍ جګړې په څیر پیل شوه. ویټ مین او ویټ کانګ (د سویلي ویتنام د ازادی ملی جبهه) د سویلي ویتنام د حکومت او د هغه ملاتړونکي امریکایي پوځ په مقابل کې په ګوریلایي جګړو سره جنګیدل.شما لي ویتنام د (ویټ کانګ) مرسته او ملاترکاوه.جګړه خورا ظالمانه وه. لدې سره،د امریکایي پوځ له خوا په (مای لای) کې د ټول وژنو، د امریکایي عسکرو د جنګي جنایتونو، په جګړو کې د امریکایي پوځ له خوا د ژنیو د کنونسیون څخه خلاف رفتاري ،په جګړو کې د کیمیاوي وسلو (Agent Orange) او اورلګونکی ناپالم بمونو پکارولو خبرونه د امریکا او نړی په رسنیو کې خپاره شول. ددې خبرونو خپریدو سره،دننه په امریکا کې عامه افکار د جګړې په خلاف وپاریدل،جګړه یې ظالمانه او بایللي وګڼله.په پای کې امریکا د عامه ذهنیت تر فشار لاندې او په جګړو کې د زیاتو تلفاتو له کبله، له ویتنا م څخه ناکام ووت. وروسته بیا د شما لي ویتنام قطعاتو د ۱۹۷۵م کال تر می پورې ټول سویلي ویتنام فتح کړ او لدې سره د ویتنام جګړه پای ته ورسیده.پدې جګړه کې ویتنامیانو۲-۴ میلیونو ملکي تلفا ت لرل او ۱،۳ میلیونه پوځیان یې له لاسه ورکړل،د امریکایانو تلفا ت۵۸۲۲۰ کسه امریکا یي عسکر او ۵۲۶۴ کسه یې د متحدینو عسکر وو. د ویتنام د جګړې درسونه افغان ولس او په ځانګړي توګه افغاني ښې او کینو سیاستوالو له پاره د عبرت څخه ډک وو.د هغو په پام کې ساتلو سره کیدای شو، هیواد د نیابتي جګړې په ډګر بدل شوی نه وای.

پدې توګه زبر ځواکونو په دریمنیو هیوادونو کې نیابتي جګړې رامنځته کولې او خپل استعماري اهداف یې تعقیبول. د سړې جګړې اصلي محرک که د شوروي توسعه طلبي وي ،که د امریکا متحده ایالاتو او که د د واړو،د دریمي نړۍ هیوادونو په میلیونو خلک، د افغانانو په شمول،د همدغو توسعه طلبیو قربانیان شول. سړې جګړې انساني ضد،استعماري ماهیت درلود. په دغه تاریخي پړاو کې سړې جګړې د نړیوالې وضعې اصلي مضمون جوړوه. د نړی پدې اړخ یعني زموږ په سیمه کې هم،د انګریزی هند او تزاری روسیی ترمنځ د دوو پیړیو استعماري سیا لیو ځای،(چې د سترې لوبې په نامه یاده شوې ده) هم د لودیز او ختیز دښمنیو یعنی سړې جګړې نیولی ؤ.

شوروي اتحاد د مرکزی اسیا خا ورې، د بخارا په شمول،تر خپل مخامخ ولکې لاندې راوستلي وې.د هغوی اقتصادي برترۍ، په افغا نستان کې د شوروي په پلوي زمونږ په خلکو مخامخ اغیز درلود.له ایران څخه د شوروي ځواکونو له وتلو او د مها آباد جمهوریت د جوړولو له ناکا مو هڅو وروسته،د تودې مارکسیستي -لیننستي ګوند،د شوروي په ملاتړ خپلو مخفي فعالیتونو ته په ژوندئ توګه دوام ورکړ.د تودې ګوند مارکسیستي خپرونې په افغانستان کې هم خپرید لې او خپل اغیز یې درلود.د سي.آی.یې.له خوا د څو روحانیونو،جنرالانو او شاه په همکارئ ،د دوکتور محمد صدق د حکومت ړنګیدو وروسته ،د رضا شاه پهلوي لودیزپلوه واکمنی ټینګه شوه. د امریکا متحده ایالاتو د خپلو متحدینو سره،


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

د شوروي اتحاد نفوذ مخنيوي او د هغه هيواد بې ثباتي له پاره ،د ناتو سربيره ،په سيمه کې د سيتو او سنتو نظامي پکتونه جوړ کړل ،ترکيه هم د ناتو غړى هيواد ؤ او هم يې د سنتو غړيتوب ترلاسه کړ،پاکستان هم د سيتو غړيتوب سربيره د سنتو غړى هيواد شو.پدې توګه د شوروي اتحاد پوځي کلابندي بشپړه شوه.
د هند په نيمه وچه کې د انګليس د مخامخ واکمنى ختميد و سره،د انګليس په دستور د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ د هيڅ په سر،داسي دښمني ونښتله ،چې اصلي دښمن يعني انګريزي استعمار د خيريت په غوندئ کښينا ست او هغوئ په خپلو منځوکي قتل او قتال جوړ کړ. انګريزي استعما ر له دغې دښمنئ څخه د وه غوره موخي درلودلي:
۱ـ د هند په ګڼ نفوسه هيواد کې د اسلام د سوله ييزې چټکي ودى مخنيوى.
۲ـ د راتلونکى له پاره په سيمه کې ځانته ډاډمني اډ ې جوړول.
پدې ډول ، استعمار ددې تفرقې په اچولو سره په لوى هند کې مسلمانانو ته د اوسيدني ځاى تنګ کړ،تول يې راټول او په يوه قطعى پاکستان کې يې بندي کړل او تر ننه پورې د پاکستان څخه د استعماري موخو د ډاډمني اډې په توګه ګټه پورته کوي.انګليس ،د جګړى باتورـافغان ملت څخه داسي شيطاني غچ واخيست چې ملا يې ورماته او د آزادي په ځاى يې، نيما يي د « غلامانو غلاما ن» او نيمايي نوريې د بلا خولي ته ټيل وهل.
سردارمحمد داوود خان د ډبلي ستراتيژي په خارخوری(ګرداب) کې په ۱۳۵۳ هش (۱۹۷۴م) کال کې نړيوالو افغانستان ته ځانګړى پام راواړوه.د امريکا متحده ايالاتو نوې ستراتيژي ،د ويتنام په جګړه کې د ماتي وروسته،داوه چې وښيي،اوس هم د خپلوګټو ترلاسه کولو له پاره ، په نوله نړئ کې د مداخلې ځواک او پوځي پوټنسيال لري.د امريکا د ستراتيژي يوې برخې په توګه،په سيمه کې د ايران پاچا رضاشاه پهلوي د پاکستان په مرسته،يو شميرسيا سي حرکتونه پيل کړل،ددې فعاليتونو هدف دا ؤ، چې داؤدخان دې ته اړ با سي تر څو په خپل خارجي سياست کې د شوروي تګ لورى څخه مخ راواړوي او د لوديز بلاک په خوا ودريږي.دا يوه ډبل (دوه لوريزه) ستراتيژى وه:
د يوې خوا يي،د محمد داؤد خان مخالفين ـ اسلامى افراطيون د رژيم په ضد وهڅول او را پاڅول .مذهبي بنسټپالو د دولت په ضد ، په يو شمير پوځي اقداماتو لاس پورې کړ. انګيزه يې هم دا وه،چې پرچميانو د داؤد خان سره نژدې همکاري لرله او په کابينه کې يې د کورنيو چارو مهم وزارت په شمول،څلور وزارتونه په لاس کې لرل.هماغه وخت تولو ته،په ځانګړې توګه اخوانيانو ته ښه څرګنده وه،چې په افغانستان کې د شوروي سياست اصلي مجريان پرچميان دي.
د بلې خوا،د ايران شاه داؤد خان سره خبرې وکړې او يو ورانديز يې ورته وکړ : که چيرې افغانستان په خپل باندني سياست کې د شوروي لورى او پلوي پريږدي او د لوديز لورى غوره کړي،د ايرا ن دولت به افغا نستان سره د شورو ي په نسبت زياتي پرمختيايي مرستې وکړي.
داؤد خان دا وړانديز ومانه.محمد داؤد د هيواد د آبادي ارزو لرله،اما د ددې له پاره يې کومه ستراتيژيکه طرحه نه درلوده.هغه هسې ستراتيژيست نه ؤ،د عمل سړى ؤ،د مکياول «شاهزاده» کتاب يې له ځان سره ګرځاوه. داؤد خان د رضا شاه په ژمنو،چې هيڅکله هم ترسره نه شوې،تيروته. داؤد خان د مقدما تي کا رونو په توګه،افغاني افسران نور د پخوا په څيرشوروي ته نه،بلکې مصر اونورلوديز پلوه هيوادونو ته استول ،د پاکستان دولت سره يې دښمني پرېښوده او د هيواد په دننه کې يې پرچمي کدرونه د لوړو دولتي څوکيو څخه ليرې کړل او د ا.خ.د.ګ.يې تر تعقيب لاندې ونيو. د (۱۹۷۴م) کال همدغه بدلون د داؤد د رژيم نسکوريدل له ځان سره راوړ.(۷) پدې توګه لوديز لوري ته د افغانستان د


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

راکښولو له پاره د ایران د شا ه فعالیتونه ،د متحده ایالاتو په ملاتړ،په افغانستان کي د بي ثباتی او لدې سره په (۱۹۷۹م) کال کي د شوروي تیري زمینه برابروله.

افغانستان ته شوروي پوځونه په داسي حال کي ننوتل ،چي د نړۍ فضا د سړې جګړې د ویروسونو ځخه ډ که وه،د تیلو په سر د ایران اشغال،د کوریا خونړۍ جګړه،د کیوبا په بحران کي د اتومي تکر احتمال،د ویتنام غم لړلي جګړه او نوري اوس د سړې جګړې د دوزخي خیتي په تل کي وي.سره جګړه لا د انسانانو په وینو مړه نه وه.دا ځل د سړې جګړې مهلکه ویروسونه، د دننیو نه پخلاکیدونکي سیاسي جریانونوځخه،چي په خپله د سړې جګړې په متخاصمو جبهو کي رامنځته شوي وو، د کمزوري شوي افغانستان په خیټه ورننوتل او د پښو یي راوغورځا وه.

د ۱۳۵۹ هش کال د جدي په شپږمه نیټه(د ۱۹۷۹م کال د دسمبر په ۲۷ ) د « دوست شوروي اتحا د» «محدود نظامي قطعا ت» د افغانستان سپیڅلي زیارتي خا وري ته ننوتل .د حفیظ الله امین درې میاشتنی واکمنی، د شوروي پوځي ټولګیو کودتایي عملیاتو پای ته ورسوله او د« ثورانقلاب د نوي او تکاملي پړاو» په سر کي ببرک کارمل خپله «اتشینه» وینا د خارجي رادیو له څپو ځخه واوروله.

اوس د سړې جګړې څیړونکي او تاریخپوهان د افغانستان جګړه د شک او تردید پرته ، د زبرځواکونو د نیابتي جګړو په شمیر کي راولي . ښکاري، د سړې جګړې په متن کي دغه تاریخي مسٔله ،چي شوروي ولې پر افغانستان تیری وکړ او پدې کي تاریخي مسؤلیت د چا په غاړه دی،درې اړخه لري:

الف ـ شوروي اتحاد د سړې جګړې د یوې جبهې سرلښکر په څیر، د تیري مخامخ عامل او مسؤل . څیړونکو پدې برخه کي تراوسه پوري د کوم ستراتیژیک پلان موجودیت نه دی ثبت کړی؛

ب ـ افغاني سیاستوال د جرم شریکانو په توګه.اما هیڅ ډول سالم منطق یا د باور وړ سند او ثبوت وجود نه لري،چي شوروي ځواکونه دې د افغاني چاروا کو د غوښتني سره سم افغانستان ته راننوتلي وي؛

ج ـ د امریکا متحده ایالات،د سړې جګړې د مقابلې جبهې مشر او د تیري محرک په توګه.

سربیره پردې په عام فلسفي بحث کي،د صنعتي ټولنو د ژوند او بقا مسٔله،زبرځواکونه یو بل سره سیالیو او دښمنیو ته اړباسي.د صنعت ژوند په انرژي او نورو اومو توکو ولاړ دی او پایښت یي د صنعتي پیداوارو له پاره د پلور بازارونو پوري تړلی دی.د همدغه ډول عیني ټولنیزو قانونمنده اړیکو په بهیر کي،د افغانستان ،ایران،ویتنام ...په څیر د دریمي نړۍ هیوادونه،چي طبیعي زیرمې یا جیو ستراتیژیک موقعیت لري او د پلور ګټور بازارونه جوړوي ، د زبرځواکونو تر برید لاندې راځي.

لدې سره،انکار نه شي کیدلای ،چي شوروي اتحاد د دوو متخاصمو سیستمونو ترمنځ د سړې جګړې د نړیوال ډګر په دښمنیو کي د افغانستان خا وره اشغال کړه یعنی د افغانستان د نیولو جهاني زمینه موجوده وه. اما دا نړیواله زمینه د ټولو نورو هیوادونو له پاره هم وه،ولې افغانستان د اشغال مضمون وګرځید، باید دننني شرایط هم ورته برابر وي یعنې د شوروي تیری دننني لاملونه هم لری.

هر زیارت لره،چي ځم مراد مي ته یي ++++ زه زائر د بتخاني او حرم نه یم

---

اخیستځایونه

۱ - دایرت المعارف: په روسي ژبه.



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

۲ - د تیلو په سر جګړه او که د لمر لاندې سوله : آلت فرانس،په الماني ژبه،۱۱۴پ،۱۹پ.
۳ - د پیرۍ کتاب، په الماني ژبه.
۴ - د کوریا د جګړې ریښې:بروس ګومنګسو،په الماني ژبه،۲۴پ،۷۸پ.
۵ - ل.ا.برژنف: پراودا،۲۵ د سپتمبر ۱۹۶۸ م کال.
۶ - په سړه جګړه کې تودې جګړې:داوید ګبس،په الماني ژبه،۲۹۶پ.



برای مطالب دیگر شیر محمد سایې، بالای عکس کلیک کنید


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com